# افغانستان - تاجکستان

# د سرحدي اوبوورکشاپ

# له لېرې واټن څخه د زده کړي ديارلسم ماډيول

## ۱۳. د پنج او آمو سيند د اوبو برښنا او اوبولګول

- د پنج او امودريا د سيندونو د سيستم ډاټا له لندو څخه تر وچو کلونو پورې ډېر تغير لري، نو له همدې امله بايد په غور سره ورباندې قضاوت وشي، خو ځينې عموميت ورکولو امکان شته دی.



*۱،۱۳ شکل: د پنج سيند د لويديځ پر لور د هغه جريان تصوير چې د پامير له غرونو وځي. افغانستان يې په کيڼ اړخ کې او تاجکستان يې په ښي اړخ کې موقعيت لري.*

- افغانستان او تاجکستان ته وړانديز کيږي، چې زياتره هايدرولوژيکي فعاليتونه لکه د راټولولو ميتودولوژي، هايدرولوجيکي ډاټا، د واورې پوښښ مراقبت او د يخچالونو د مراقبت سره شريک کړي.
- امو سيند په مرکزي آسيا کې لوی سيند دی او په افغانستان کې د کابل له سيند څخه ورسته ډېرې اوبه لري او شپږ هېوادونو ترمنځ ( افغانستان، قزاقستان، قرغيزستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ) ترمنځ شريک دی.

- د پامیر سیند د لویدیځ په لورجریان لري او په افغانستان کي د واخان په دهلیز کې د زرقول له جهیل څخه سرچینه اخلي، ددې لپاره چي د پنچ سیند جوړ کړي د واخان له سیند سره یوځای کیږي. د پنج سیند د افغانستان د بدخشان د ولایت پوله له تاجکستان سره جوړوي.
- ۶۰۰ کیلو متره ورسته لویدیځ کي د وخش سیند د مرستیال په توګه له پنج سره یوځای کیږي او امو سیند پیلیږي.
- د افغانستان له اړخ څخه عمده مرستیالان د کوکچې او کندزسیند دی.
- د آموسیند ټولي اوبه له هرې منبع څخه چي وي په یوه کال کي ۷۹ کیلومتره دي، چي په ۱۹۶۰ میلادی کال کې ، مخکې له دې چي زیاتې اوبه ورڅخه د اوبولګولو لپاره ولګول شي، د ارال سمندرګی چي د نړۍ څلورم لوی جهیل دی، په ښه بڼه او ښه سویه کي وو.
- له هغي څخه وروسته د ارال سمندرګي د اوبو د سطحي له مخي نزولي بڼه درلوده او موجودیت یې له پوښتني لاندې راغی او اوس ښايي ونه شي ژغورېدلای.




*۲،۱۳ شکل : د ارال سمندرګي لويه حوزه چي د سير دريا او آمو دريا فرعي حوزه ورسره مل ده.*




۳،۱۳ شکل: د ارال د سمندرګی د نزولي بڼي نقشه.



۴،۱۳شکل : له ۱۹۸۹ څخه تر۲۰۱۴ پوري د ارال سمندرګي د نزولي بڼي د مصنوعي سپوږمی تصویرونه.




۵،۱۳ : د امو د سیند مرستیالان په افغانستان او تاجکستان.




شکل ۱۳،۶: د اوبو نسبی حجم په اوبو کی.

- د پنج او آمو سیندونو مدیریت د شوروي او له شوروي څخه په وروسته وختونو کې زیاتره ددې شېږو هېوادونو لپاره پېښه ده او د کموني له کچې څخه وتلي دي. له 1991 میلادی کال راهیسي افغانستان د آموسیند د نورو ساحلي هېوادونو په واسطه په بشپړ ډول له پاده وتلي وو.




*شکل ۷،۱۳: په مرکزي اسیا کې د اوبو مدیریت وضع او اغېزې.*

- په کال کی په متوسط ډول 49.6 میلیارده متره مکعب اوبه له تاجکستان څخه آموسیند ته راځي (میلیارده متره مکعب یا کیلو متره مکعب) یا د ټول جریان د اوبو 44 سلنه اوبه کېږي او له افغانستان څخه 17 کیلومتره مکعب یا د ټولو اوبو 23 سلنه اوبه له افغانستان څخه د آموسیند ته ورځي.
- په لندو کلونو کی له افغانستان څخه د اوبو اندازه 24km$^3$ وه، خو د وچکالی په کلونو کی 14km$^3$ وه.
- په 1946 میلادی کال کې افغانستان حق درلوده، چې له دې اوبو یا د آمو له سیند څخه 9km$^3$ اوبه په کال کی ولګوي. دغه قرارداد له شوروي اتحاد سره لاسلیک شوی وو. دغه قرارداد تر اوسه په خپل حال پاتې دی، خو تر زیاتې اندازې پورې د افغانستان پواسطه ورڅخه ګټه نه اخیستل کېږي.

- 1977 میلادي کال کې افغانستان له  شوروي اتحاد څخه د 9 $km^3$  اوبو غوښتنه وکړه، خو شوروي اتحاد یوازې په 6$km^3$ اوبو په هماغه وخت کی موافقه وکړه.
- په 1987 میلادي کال کې پروتوکول شماره 544، 41.5 $km^3$ د آمو د سیند اوبه تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او قزاقستان ته تخصیص شوې او افغانستان به یوازې له  2.1$km^3$  اوبو څخه په هماغه وخت کې ګټه اخیستلی شوای او له هغې څخه وروسته له افغانستان سره هېڅ مشوره نه ده شوې، چې له څومره اوبو څخه ګټه واخلي.
- د اوبو  هغه اندازه چې د آمو له سیند څخه وسیتل کېږي :

ازبکستان 26 ـــــــــ40 کیلو متره مکعب

ترکمنستان 23ــــــــــ 28 کیلو متره مکعب

تاجکستان ۷،۵ ــــــــــ ۸،۵ کیلومتره مکعب

افغانستان ۵ کیلومتره مکعب

قرغیزستان ۰،۱ـــــــــــ ۰،۵  کیلومتره مکعب

- افغانستان پلان لري، چې د کوکچې او کندز پر سیند ۸ بندونه چې د پنج او آموسیند مرستیالان دي جوړ کړي او زیاتې اوبه  د ابو برېښنا په تولید او اوبو لګولو ولګوي.
- افغانستان او تاجکستان دواړه پلان لري، چې په پنج سیند باندې ۱۰ بندونه چې د دوی ترمنځ جریان لري جوړ کړي.



۸،۱۳شکل :د افغاستان او تاجکستان ترمنځ د پنج د سیند له پاسه نوی پل.

- د پنج او اموسیند لویه ستونزه د سیندونو د غاړو اهتکال دی، ددې اهتکال په پایله کې سیند د جنوب په لورمخته راغلی دی او د افغانستان ډېره خاوره يې تخريب کړې ده، چې د سیند غاړې مخافظت ته اړه ده، چې زړې اوسپنی (scramp metal) یا د ډبرو دیوال  پواسطه د سیند غاړه مخافظت شی، خو افغانستان به ددې توان نلري، چې دهغې لګښت ورکړي.



*۹،۱۳ شکل: د اموسیند له پاسه د افغانستان ازبکستان ترمنځ د دوستی پل یوه هڅه ښيي، چې د سیند غاړه  د افغانستان په اړخ د شوروي له کاره ولېډلې زره په واسطه محافظت کړې.*

**له لیرې واټن ښخه د زده کړې دیارلسم مادیول پوښتنی (دلته کلیک وکړی)**